## حاجب
هغه شخص چې شتوالی یې د ټول میراث او یا هم د هغه له یوې برخې څخه د بل شخص د محرومیت سبب شي.
دری:[حاجب]

## حادث
هر هغه څه چې موجود نه دی او وروسته موجود شي.
دری: [حادث]

## حادث اضافت
د یو عقد، تصرف او یا د نورو د حقوقي چارو په موضوع کې د نویو تغییراتو د رامنځ ته کېدلو څخه عبارت دی. دری: [اضافت حادث]

## حادثه یا منضمه دعوی
هغه غوښتنه او تقاضا ده چې د ادعا په لومړني او ابتدائي پړاو کې وجود نلري، بلکې د لومړنی دعوی په جریان کې پدې شرط چې له هغې سره تړاو ولري، رامنځ ته شوی وي. دری: [دعوی حادث یا منضمه]

## حاده جروح
له هغو جرحو څخه عبارت دی چې د تېزې او غوڅوونکې آلې په واسطه صورت مومي که دا آله یوحد ولری یا دوه حده. دری: [جروح حاده]

## حارصه
د بدن د پوستکي ګرېدل دي پرته له دې چې د هغې ځینې وینه وبهیږي. دری: [حارصه]

## حاضر مالونه
هغه شتمني ده چې د میراث د وېشلو او یا په حقوقي تعهداتو کې د مجرایي او حسابي په مهال، په حکمي او یا مادي توګه حاضره وشمېرل شي.
دری: [مال های حاضر]

## حاضنه
په هغې ښځې اطلاق کېږي چې په قانوني او شرعي توګه د ماشوم د پالنې واک په هغه موده کې چې قانون ټاکلی وي په غاړه لري. دری: [حاضنه]

## حاکمه محکمه
هغه واکمنه محکمه ده چې دعوی په هغې کې تر دوران لاندې وي. دری: [محاکمه حاکم]

## حالف
هغه شخص دی چې د قضا په حضور کې یمین اداء کړي. (یمین ته دې مراجعه وشي). دری: [حالف]

## حامل
هغه څوک چې یو شی انتقال کړي. دری: [حامل]

## حایز
د یوه حق یا امتیاز لرونکی حقیقي یا حکمي شخص او یا د یوه یا څو صفتونو لرونکی شي. دری: [حایز]

## حایط
له هغه مانع څخه عبارت دی چې له تختو څخه او یا هم د ونو له څانګو څخه جوړ شوی وي. دری:[حایط]

## حایل
په حقوقي مواردو کې د یو حق د لاس رسیو په خاطر د یو امر د خنډ او مانع واقع کېدل. دری: [حایل]

## حبس له شاقه عملونو سره
د آزادۍ له سلب کوونکو جزاګانو څخه عبارت دی چې دجزا د قانون په موجب محکوم مکلف ګڼل کېږي چې په ټاکل شوې موده کې سخت او شاقه کارونه سرته ورسوي. دری:[حبس به عمال شاقه]

## حتمي تحقیق
هغه حالات دي چې په هغه کې د څارنوالـ له خوا د قانون له حکم سره سم تحقیق حتمي ګڼل کېږي.
دری: [تحقیق حتمی]

## حجب
د میراث د علم په اصطلاح، حجب د وارث هغه حالت دی چې د بل وارث د شتوالي په سبب د ټول میراث او یا هم د هغه له یوې برخې څخه محرومېږي.
دری:[حجب]

## حجت
عبارت له هغه سند څخه دی چې په هغه کې له شرطه پرته ټاکل شوې پیسې په ټاکلي وخت او په ځانګړې ځای کې ذکر شوی وي. دری: [حجت]

## حَجر
د شخص د قولي تصرفاتو منع کول دي چې د عقل د نقصان او سوء تصرف له وجې مینځ ته راځي.
دری: [حَجر]

## حجز
له هغې جزائي مویدي څخه عبارت دی چې د قانوني اهلیت د نه درلودو په حالت کې پر متخلف د واکمنې محکمې د حکم له مخې اجراء کیږي. دری: [حجز]

## حجز په کورکې
په کور، عمومي او یا خصوصي ځای او یا هم د ټولنیزو چوپړونو په یوه مؤسسه کښې د ماشوم ساتل د ټاکلې مودې لپاره. دری: [حجز در منزل]

## حدود
هغه جزاګانی دي چې د ټولنې د ګټو لپاره د شرع له خوا ټاکل شوي وي او اقل او اکثر حد نلري. دری: [حدود]

## حراج
د یو عین او یا یو حق د خرڅولو داوطلبي. دری:[حراج]

## حرام طلاق
هغه طلاق دی چې د شریعت او قانون د حکمونو پرخلاف رامنځته شي. دری:[طلاق حرام]

## حرام وصیت
هغه وصیت دی چې د هغه موضوع او یا بنه د اسلامي شریعت د موازینو په خلاف وي. دری: [وصیت حرام]

## حرز
د مال د ساتنې له ځای څخه عبارت دی چې د لاس وهنې د ساتنې په موخه په هغه ځای کښې ایښودل کیږي. دری:[حرز]

## حرفوي عرف
د یوې حرفې او یا شغل هغه ځانګړې رویه، دود او رواج ته ویل کیږي چې د هماغې حرفې د اهل په منځ کې متداول وي. دری: [عرف حرفوی]

## حرفوي مالیه
هغه مالیه ده چې اشخاص ثابت ځای د کار او فعالیت نلري او د حرفې او سکونت پر بنسټ ترې د قانون له حکمونو سره سم مالیه اخیستل کیږي.
دری:[مالیه حرفوی]

## حرفوي مجرم
هغه شخص چې جرمونه یې د یوې حرفې او کسب په توګه اختیار کړی وي. دری: [مجرم حرفوی]

## حریق
د سوزولو په جرم کې د اور کېښودل دی او کېدای شي چې د کیمیاوي موادو په واسطه چې د لمبې وړتیا لري صورت ومومي. دری: [حریق]

## حساب

د شیانو، مالونو، کالیو او پیسو د شمېرنې له پروسې څخه عبارت دی چې د اعدادو په مرسته ترسره کېږي.
دری: [حساب]

## حساب ورکول

د قرارداد کوونکي په ګډون د حقیقي او حکمي شخص له خوا د موادو او یا پیسو د مصرف د حساب وړاندې کولوته وائې چې په قانوني توګه پرې مکلف وي.
دری: [حساب دادن]

## حساس دلیل

هغه دلیل چې د خراب والي یا د منځه تللو د ساتنې په موخه باید په ځانګړي ډول سره بسته بندي شي.
دری:[دلیل حساس]

## حسبه

په عمومي ډول د امر باالمعروف او نهي عن المنکر ټولې مشروعه لیارې. دری:[حسبه]

## حسبه بینه

هغه شهادت دی چې د حقوق الله په برخه کې وي.
دری:[بینه حسبه]

## حسي سبب

هغه دی چې مباشر فعل په محسوس شکل سره مینځ ته راوړي. دری: [سبب حسی]

## حصر

په یو حقوقي موضوع کې د هغې د شاملو افرادو او موضوع د محدودول او مقید ګرځول دي. دری: [حصر]

## حضوري حکم

له هغه حکم څخه عبارت دی چې متهم یا د دعوي دواړه خوا وې او یا د هغو وکیل د محاکمو په یوه جلسه کې حاضر شوی وي او د هغه په حضور کې د محکمې حکم ابلاغ شوی وي. دری:[حکم حضوری]

## حضوري مواجهه

د محکمې په محضر کې یو د بل په وړاندې د یوې جزایي قضیې د شکمن، تورن او شاهدانو حاضرول دي.
دری:[مواجهه حضوری]

## حضیره

هغه ځای ته ویل کیږي چې د مړو د ښخولو په منظور تثبیت کیږي. دری:[حضیرۀ]

## حق

عبارت له هغه صلاحیت، سلطې، امتیاز او اقتدار څخه دی چې یو شخص یې د نورو اشخاصو او اشیاوو په وړاندې لري او د قانون له خوا حمایت کیږي.
دری: [حق]

## حق البیمه

هغه معیني پیسې چې د بیمې د عقد د تړلو په وخت کې د دواړو خواو ترمنځ د بیمې د شرکت په مرکز یا نماینده ګۍ کې تاکل کیږي. دری: [حق البیمه]

## حق التألیف (د طبع حق)

هغه حق دی چې د مؤلف اثر له طبع وروسته د هغه له امتیازاتو څخه د قانون له حکمونو سره سم ګڼه اخلي.
دری: [حق التألیف (حق طبع)]

## حق الزحمه

د هغه مالي وجې له ورکړې څخه عبارت دی چې د کار د ترسره کولو په وړاندې د قانون د احکامو او یا د یوه ځانګړې خصوصي تړون په اساس کارکوونکي ته ورکول کیږي. دری: [حق الزحمه]

## حق السکوت (د چوپتیا حق)

هغه وجهه ده چې یو شخص یې د بل شخص یا اشخاصو د اسرارو او رازونو د نه افشا کولو په بدل کې لاس ته راوړي. دری:[حق السکوت]

## حق الله

له هغه حق څخه عبارت دی چې د ټولنې د ګټو پورې اړه لري او د هغه جزاګانې د ټولنې نه د فساد د دفع او امنیت د تحقق او د افرادو د سلامتیا په موخه وضع کیږي. دری: [حق الله]

## حق الله (د ټولنې حق) پورې مربوط جرم

هغه جرم چې تعقیب او څیړنه ئې د شاکي د شکایت پورې اړوند نه وي او پر تېرېدلو ئې د هغې تعقیب نه ودریږي. دری: [جرم مربوط به حق الله (حق اجتماع)]

## حق ته احترام

هغه وجیبه ده چې شخص د نورو حقوقو ته احترام او د ضرر یا مداخلې څخه ډډه وکړي. دری:[احترام به حق]

## حق ته امید

هغه انتظار دی چې که چېرې حادثې په معین ډول دوام ومومي، ددې امکان شته چې شخص د حق څښتن شي. دری:[امید به حق]

## حقابه

عبارت دی د عامو یا خاصو لښتیو د اوبو له هغې برخې څخه چې د ځمکې د اوبه کولو په منظور ورنه کار (ګټه) اخیستل کیږي. دری:[حقابه]

## حقوق بین المللی خصوصی

د قواعدو هغه مجموعه ده چې د یو معین دولت له قلمرو څخه بهر، د افرادو اړیکې د نورو افرادو سره مطالعه کوي. دری: [حقوق بین المللی خصوصی]

## حقوقو عمومي جزاء

هغه علم دی چې له عمومي جرمونو څخه بحث کوي. دری: [ حقوق جراء عمومی]

## حقوقي اثر

هغه پایله یا پایلې دي چې د یوه حقوقي تصرف حقوقي یا حقوقي حادثې څخه اخیستی شوي وي. دری: [اثر حقوقی]

## حقوقي اهلیت

د حق او وجیبې د درلودلو لپاره قانوني واک دی. یعنې داچې شخص وکولای شي ترڅو د ټاکلیو حقوقو او وجیبو خاوند شي او یا هم داچې د حقوقي اهلیت له مخې شخص باید د حق د عملي کولو او د وجیبې د ادأ کولو واک ولري. دری:[اهلیت حقوقی]

## حقوقي بندي

هغه شخص چې هېڅ راز جزایي محکومیت ونلري بلکې یوازې د مالي محکومیت او د هغه د نه ورکړې په دلیل بندي شوی دی. دری: [ زندانی حقوقی]

## حقوقي بنياد
د هغو مالونو مجموعه ده چې د يوه ټولنيزې موخې لپاره تخصيص شوی وي او د يو لړ حقوقي قواعدو تابع وي چې په اساسنامې کې منعکس شوی وي.
دری: [بنیاد حقوقی]

## حقوقي تأمينات
هغه لازمي او قانوني وسايل دي چې د اتباعو اساسي، فردي او اجتماعي حقوق د دولت له خوا تضمينوي.
دری: [تأمینات حقوقی]

## حقوقي تصرف
له هغه قولي تصرف څخه عبارت دی چې د قانون له حکمونو سره سم د يوه ټاکلي حقوقي اثر د رامنځته کېدو لپاره د شخص له غوښې ارادې څخه منځته راغلی وي.
دری:[تصرف حقوقی]

## حقوقي تمثيل
د قانون مفهوم او معنی ته وده او توسعه ورکول او د هغه تطبيقول دي، چې قانون هغو ته اشاره نه وي کړي.
دری:[تمثیل حقوقی]

## حقوقي حادثه
عبارت د داسی واقعې او يا فعلي تصرف څخه ده چې د شخص په اختيار او يا د هغه د اختيار څخه پرته واقع شوی وي او قانون وربانـدې ټاکلي اثرات مرتب کړي وي.
دری:[حادثه حقوقی]

## حقوقي دکتورين
هغه نظريې، آرا او افکار دي چې د حقوقو د علماؤ او پوهانو له خوا د تاليفاتو، مقالو او رسالو په شکل وړانـدې شوی وي.
دری:[دکتورین حقوقی]

## حقوقي رابطه
عبارت له هغې اړيکې څخه ده چې د حقوقو له نظره د دوو اشخاصو، دوو شيانو او يا د يوه شخص او يوه شي ترمنځ ټينګېږي او پايلې يې حقوقي نتايج وي.
دری: [رابطه حقوقی]

## حقوقي ژوند
د حقيقي يا حکمي شخص ژوند د قوانينو په اعتبار دی.
دری: [زندهٔ‌گی حقوقی]

## حقوقي سيستم
هغه حقوقي نظام دی چې په هېواد کې مستقر وي چې د حق د لاس ته راوړلو او د هغه د کاروني بڼې او د دولت د څارنې او مداخلې حدودونه تنظيموي.
دری: [سیستم حقوقی]

## حقوقي عمل
د يو شخص او يا څو اشخاصو د ارادې بيانول دي د حقوقي نتايجو د منځ ته راتللو په منظور، لکه د يو حق او يا وجيبې منځ ته راتلل (ايجاد)، انتقال، تغيير او اسقاط.
دری:[عمل حقوقی]

## حقوقي قلمرو
هغه جغرافيايي ساحه ده چې د يو هېواد قوانين پکښې نافذ وي.
دری: [قلمرو حقوقی]

## حقوقي ماهيت
د هغو فعاليتونو مجموعه ده چې مالي، اداري، قضايي او قانوني اړخ ولري او د هغه پر بنسټ حقوقي موضوعاتو شکل نيولی وي.
دری:[ماهیت حقوقی]

## حقوقي مساعدت
هغه مدافع وکيل دی چې په جنائي موضوعاتو کې د عدليې د وزارت له خوا بې وزلو اشخاصو ته ټاکل کيږي.
دری: [مساعدت حقوقی]

## حقوقي معاملات
هغه معاملات چې په قانوني توګه د هغو انعقاد په رسميت پېژندل شوی وي. دری: [معاملات حقوقی]

## حقوقي منبع
د هغو سببونو له پيداکولو څخه عبارت دي چې يوه حقوقي پديده د هغه په اساس رامنځ ته کېږي.
دری:[منبع حقوقی]

## حقوقی وضعيت
عبارت دی د شخص د حقوقي اوصافو (صفتونو) له مجموعې څخه چه قانوناً په هغه باندې حقوقي آثار مرتب شي. او هغه موارد پکې شامل دي چې د وضعيت برخې جوړوي. دری:[وضعيت حقوقی]

## حقيقي (مادي) تعدد
هغه تعدد چې جاني د څو فعلونو مرتکب شي چې هر فعل په ځانګړې ډول جرم ګڼل کيږي.
دری:[ تعدد حقيقی يا مادی]

## حقيقي شخص
حقيقي شخص هغه فرد دی چې د حق او تکليف موضوع ګڼل کيږي. په بل عبارت، د انسان شخصيت د هغه له بشپړ ژوندی زيږيدو سره سم پيل او له مړينې سره يې پای ته رسيږي. (اهليت ته دې رجوع وشي).
دری:[شخص حقيقی]

## حقيقي شرط
هغه شرط دی چې په واقعي توګه د شي وجود د هغه په وجود کې متوقف وي. دری:[شرط حقيقی]

## حقيقي مدخول بها
هغه ښځې چې ور سره په حقيقی توګه مجامعت (دخول) صورت موندلی وي. دری: [مدخول بهای حقيقی]

## حقيقی معنی
هغې معنی ته ويل کيږي چې هغه لفظ چې اصلاً د هغې لپاره وضع شوی دی ترې وپوهېدل شي .
دری: [معنی حقيقی]

## حُکر
د عيني حقوقو څخه دی چې مقصد يې د يوی ټاکلی اجورې او مودې په ترڅ کې ځمکه د غرس او ودانيو دپاره يا ددې دواړو څخه د يوه دپاره پاتې کيږي.
دری:[حُکر]

## حکم
د قضايي هيئت تصميم چې د محاکمې له بهير نه وروسته په ماهيت کې نيول کيږي او قاضي د قانون اراده په يوې ټاکلې واقعه کې اعلانوي. د افغانستان د تقنيني اسنادو د روحيې پر بنسټ د قاضي قضاوت دی. دری: [حکم]

## حَکَمّ
له هغه شخص يا اشخاصو څخه عبارت دی چې د واکمنې محکمې له خوا د منازعې د اړخونو د دواړو خواوو له رضايت سره سم د اختلافاتو د حل لپاره تعين کيږي. دری: [حکم]

## حکمي استجواب
د شهودو مخامخ کول دي د متهم يا متهمينو سره چې د محقق له خوا صورت مومي. دری:[استجواب حکمی]

## حکمي اشتباه
د حکم په وجود جهل او يا د ناواقعی قانوني حکم پربنسټ ناسم برداشت. دری: [اشتباه حکمی]

## حکمي دليل
هغه دليل چې اعتبار يي د يو حکم پر بنسټ وي او پر يو بل حکم باندې دلالت کوي. دری: [دليل حکمی]

## حکمي شخص
هغه معنوي شخص چې د حقوقي اهلیت درلودونکی وي او د معینو موخو لپاره د موسسې، شرکت او یا جمعیت په بڼه جوړیږي. دری: [شخص حکمی]

## حکمي قبض
پرته له کوم خنډه د مبیعې د ترلاسه کولو په برخه کې د مشتري توانیدلو ته، حکمي قبض ویل کیږي.
دری: [قبض حکمی]

## حکمي مدخول بها
هغه ښځه چې له هغې سره په حقیقي توګه مجامعت (دخول) صورت مونډلی نه وي خو تر هغو شرایطو لاندې چې صحیحه دخول د هغه تقاضا کوي راغلې وي.
دری: [مدخول بهای حکمی]

## حکمي مړینه
هغه مړینه ده چې د محکمې پر حکم بنا شوی وي.
دری:[فوت حکمی]

## حکمي مشهود جرم
هغه جرم دی چې د قانون په موجب د مشهودو جرمونو په حکم کې ځای ورکړل شوی دی.
دری: جرم مشهود حکمی]

## حکمیت
له قاضي پرته د بل چا له خوا او بې لدې چې د دعوي ګانو د رسېدنې رسمي تشریفات په پام کې ونیول شي، د خصومت حل کول دي. دری:[حکمیت]

## حکومت
له وزیرانو څخه جوړ شوی چې د جمهور رئیس تر اثر لاندې خپلې دندې ترسره کوي. دری:[حکومت]

## حکومتي تعزیرات
د ځینو هغو سوداګریزو او اقتصادي جرمونو تعزیري جزاګانې چې د بیې اېښودنې له مقرراتو او وېش له ضوابطو څخه د سرغړونې په توګه ارتکاب مومي.
دری: [تعزیرات حکومتی]

## حلقوي خطونه
له هغو شکلونو څخه عبارت دی چې یو یا څو خطه په موازي شکل د ګوتې د یوې څنډې څخه شروع شوي وي مخکې له دې چې د ګوتې مقابلې څنډې ته ورسیږي خپل تګ لارې ته تغییر ورکوي بیا په لومړنۍ خوا خپل مخ راګرځوي چې دغه حرکت یوه حلقه جوړوي او د حلقوي خطونو په نوم یادیږي.
دری: [خطوط حلقوی]

## حُلُمْ
هغه څه چې انسان یې په خوب کې ویني. دری: [حُلم]

## حلمه
د ښځې د تي څوکه چې تور رنګ لري. دری: [حُلمه]

## حلیله
هغه ښځه چې د لومړي څښتن له خوا په درې کاټو طلاقه شوی وي او د دوه یمې نکاح له فسخې وروسته د دوه یم ځل لپاره لومړی څښتن نکاح کوي. دری: [حلیله]

## حواله
له هغه عقد څخه عبارت دی چې د هغه په موجب د یوه شخص غوښتنه د مدیون له ذمې څخه د درېیم شخص ذمې ته لیږدول کیږي. دری:[حواله]

## حیات
د انسان، حیوان او نبات د بقاء استمرار د روح په واسطه، حیات بلل کیږي. دری: [حیات]

**حیازت**

د یو شي ساتل، تصرف کول، او یا هم د هغې د تصرف او واکمنۍ لپاره د وسایلو برابرول دي. دری: [حیازت]

**حیازي رهن (ګروي)**

هغه عقد دی چې په موجب یې ګرو ورکوونکې ژمنه کوي ترڅو خپل مال د داسي مالي حق په بدل کې د ګرو اخیستونکی یا بل امین شخص په تصرف کې ورکړي. دری:[رهن حیازی]

**حیله**

د هغه عمل تظاهر دی چې رښتیني موخه یې د بل چا غافلول وي. دری: [حیله]